**<u>مطبوعاتي اعلاميه</u>**

**د اردن رژيم د حزب التحرير پر شبابو ظلم او د هغوی ځورونې ته دوام ورکوي**



**(ژباړه)**

له هغه لاريون وروسته چې حزب التحرير په ولايه اردن کې د اردن دولت له خوا د قدس د قضيې له تړلو وروسته د قدس او ټول فلسطين د بري لپاره وکړ، له حزب التحرير او د دغه حزب له شبابو سره د کړکېچ دوام زيات شو. د دغه دولت امنيتي ادارو د پلازمېنې- عمان په موقابلين سيمه کې د حزب التحرير دوه غړي ونيول. په دغه لاريون کې حزب په اسلامي ځواکونو غږ وکړ، چې د امريکا له خوا د اشغالګرو يهودو د پلازمېنې په توګه د قدس د ټاکلو پر وړاندې د عملي اقدام لپاره د قدس په لور وخوځېږئ. ورور معتصم فايض السالم او علی وصفي حرب، چې د عمومي استخباراتو په زندان کې له بندي کېدو راهيسې يې کورنی، خپلوانو او وکيلانو ته د ليدلو اجازه نه ده ورکړل شوې، په دې اړه شکونه زياتوي چې دوی به سخت شکنجه شوي وي او ټپونه به يې لا نه وي جوړ.

موږ، حزب التحرير ولايه اردن، په پشپړه توګه د علی حرب د امنيت او د حزب التحرير د نورو شبابو د نيولو په اړه د رژيم امنيتي ځواکونه، د عمومي استخباراتو رييس او د څېړنو افسران مسوول بولو. دغو زړورو خلکو رژيم محاسبه کړی او پر بې عدالتيو، دسيسو، فساد او بې پروايي يې د اردن ټول خلک خبر کړي. اردن؛ د رښتينو او ځوانمردو خلکو او د پيغمبر صلي الله عليه وسلم د پيروانو ځمکه او سيمه ده.

موږ د اردن د رژيم پر هغو کړنو باخبره يو چې د هغو رښتينو خلکو پر وړاندې يې تر سره کوي چې حقيقت اعلانوي، د اسلامي ژوند د بيا را ژوندي کولو او د اردن د مسلمانانو د خلاصون لپاره کار کوي او يا هم د اسلامي لښکرو د ويښولو لپاره غږ پورته کوي. موږ ته دا د حيرانتيا خبره نه ده، ځکه دوی له سياسي اړخه ماتې خوړلې، د دوی مخکينی ناکامی او په هېواد کې پر خلکو تاريخي ظلم څرګند شوی او دا

کوم عرب یا عجم غولوونکي سیاسي، امنیتي او یا هم هغه اقتصادي مشران چې پانګوال چټل احساسات لري نه شي پټولی. رسول الله صل الله علیه وسلم فرمایي:

**«إِنَّ اللهَ لَيُمْلِي لِلظَّالِمِ حَتَّى إِذَا أَخَذَهُ لَمْ يُفْلِتْهُ»**

الله سبحانه وتعالی ظالم ته موقع ورکوي، خو کله یې چې محاسبه کړ بیا یې نه بربېږدي.

حزب التحریر ولایه اردن،له الله سبحانه و تعالی، مسلمانانو او نړۍ سره خپل تړون یو ځل بیا تازه کوي، چې د نبوت پر منهج به د حق اعلانولو ته ادامه ورکوو او یوه زره به هم له دې لارې کاږه نه شو. موږ د تهمت کوونکو له تهمتونو، د کرکجنو له اخطارونو او د ظالمانو له ظلمونو څخه نه وېرېږو. تر هغه چې الله سبحانه وتعالی په ټولو سیمو کې اسلام حاکم نه کړي او پر مسلمانانو د بري رحم ونه کړي خپل کار ته دوام ورکوو او یا به هم له الله سبحانه وتعالی سره په داسې حالت کې وګورو چې د هغه لپاره په کار بوخت وو. الله او دین ته یې ریښتیني او ژمن یو.

**﴿إِنَّا لَنَنْصُرُ رُسُلَنَا وَالَّذِينَ آمَنُوا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ يَقُومُ الأَشْهَادُ * يَوْمَ لا يَنْفَعُ الظَّالِمِينَ مَعْذِرَتُهُمْ وَلَهُمُ اللَّعْنَةُ وَلَهُمْ سُوءُ الدَّارِ﴾**

[الغافر:۵۱-۵۲]

*ژباړه: باور ولرئ چې موږ په دې دنیا کې د خپلو پیغمبرانو او موءمنانو مرسته هرومرو کوو او په هغه ورځ به یې هم وکړو چې کله شاهدان ولاړ وي، په هغې ورځ چې ظالمانو ته د هغوی معذرت هیڅ ګټه نه رسوي او پر هغوی لعنت ورېږي او هغوی ته ډېر بد استوګنځی وررسیږي.*

**د حزب التحریر- ولایه اردن مطبوعاتي دفتر**
**د صدور ګڼه: ۱۹/۳۰**
**۱۴۳۸هـ.ق، د جمادی الاول ۲۲مه**
**۲۰۱۸م، د فبروري ۸مه**
**ژباړن: علي عسکري**